# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**4حوت _سال 1401**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


د مهاجرینو چارو وزیر د کابل ولایت د مهاجرینو ریاست څخه لیدنه وکړه -------------------------------------------1

پنج تفاهمنامه همکاری به ارزش بیش از 14 میلیون دالر در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید -------------------2

بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمودند-----------------------------------------------------------3

توزیع کمک نقدی به بیش از هزار خانواده در هلمند آغاز یافت ---------------------------------------------------3

مساعدت صحی به صد ها خانواده در ولایات بغلان و هرات توزیع شد--------------------------------------------4

زلزله در ترکیه: مهاجرانی که در تابوت‌ها به سوریه بر می‌گردند---------------------------------------------------5

په ایتالیا کې د افغانانو ټولنه: «موخه مو له یو بل سره مرسته کول دي«-------------------------------------------9

د آلمان د مالیې وزیر د زیاتو رد سویو کډوالو د ایستلو غوښتنه وکړه----------------------------------------------12

په اروپا کې د تیرو ۷ کالو راهیسې تر ټولو زیاتې د پناه غوښتنې شوې ----------------------------------------13

مهاجرت غیرقانونی؛ 5909 مهاجر در سال 2022 جان باختند ----------------------------------------------15

سازمان ملل اعلام کرد، در سال 2022، 5909 مهاجر غیرقانونی که در تلاش مهاجرت به کشور دیگری بودند، جان خود را از دست دادند ----------------------------------------------------------------------------------15


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزیر د کابل ولایت د مهاجرینو ریاست څخه لیدنه وکړه

دوزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د کارونو د ارزونې په موخه له دغه ریاست څخه لیدنه وکړه

ښاغلي حقاني د اسنادو او عرایضو له کتنې وروسته د ټولو کارمندانو ستونزې او کاري راپورونه واورېدل، د ستونزو د هوارې او کمبوتاتو د پوره کولو ډاډ یې ورکړ او لازمې سپارښتنې یې ورته وکړې

نوموړي وویل، مهاجرین او بېځایه شوي ډېره مظلومه طبقه ده، ددوی خدمت باید ډېر په ویاړ، پاک نیت، عزم او اخلاص سره وکړو

ښاغلي حقاني په کارونو کې له غفلت، خیانت، کبر غرور او له مراجعینو سره له ناوړه چلند څخه د ځان ساتنې او د اطاعت، نظافت، پنځه وخته لمانځه، ښو اخلاقو، په سروی او توزیع کې په شفافیت، مشوره او همغږۍ ټینګار وکړ



Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://www.facebook.com/morr.gov.af2

## پنج تفاهمنامه همکاری به ارزش بیش از 14 میلیون دالر در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

ویب سایت وزارت



**وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان پنج تفاهمنامه همکاری را به ارزش 14 میلیون و 404 هزار و 631 دالر آمریکایی برای خدمت رسانی بهتر به نیازمندان، با موسسات امضا کرد.**

**مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین حین امضای این تفاهمنامه ها، نظارت جدی ریاست های امور مهاجرین ولایات را از تطبیق شفاف و بهتر این پروژه ها موثر دانسته گردیده و از موسسات خواست که در زمینه نظارت و حسابدهی با ادارات ناظر همکاری داشته باشند.**

**بر اساس این تفاهمنامه ها، موسسه کمیته بین المللی نجات(IRC)، موسسه بین المللی هاجر، موسسه معاونیت انسانی و انکشافی برای افغانستان(AHDAA)، کمیته هالند برای افغانستان، موسسه بشری صلح سازان افغان(APBHO) برای خانواده های نیازمند از طریق توزیع مساعدت نقدی و فراهم سازی زمینه کار در 15 ولایت کشور خدمت رسانی می نمایند.**

## بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت



**آمریت سرحدی اسلام قلعه ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت هرات ازبرگشت یک هزارو888 تن مهاجرافغان ازایران، به تاریخ 2 حوت خبرداد.**

**منبع علاوه نمود که از میان افراد مذکور304 نفر آنها غرض اخذ مساعدت به دفتر IOM معرفی شدند.**

## توزیع کمک نقدی به بیش از هزار خانواده در هلمند آغاز یافت

ویب سایت وزارت



**برای یک هزارو 300 خانواده بیجاشده در ولایت هلمند مساعدت دفتر IOM، به تاریخ 2 حوت آغاز گردید.**

**کمک مذکور که در کتگوریهای  مختلف مبالغ 43 هزارو 200 افغانی و 26 هزارو 400 افغانی پول نقد  بود جهت اعمار سرپناه  برتی خانواده های یاد شده در ولسوالی های نهر سراج ، گرشک ، مارجه ، ونادعلی در تفاهم با ریاست مهاجرین آنولایت توزیع می شود.**

## مساعدت صحی به صد ها خانواده در ولایات بغلان و هرات توزیع شد

ویب سایت وزارت



به اساس معلو مات واصله، برای 647 خانواده در ولسوالی دهنه غوری ولایت بغلان و برای 300 خانواده در ولایت هرات مساعدت صحی موسسه DACAR که شامل 19 قلم مواد صحی وحفظ الصحوی بود در هماهنگی با اداره های امور مهاجرین انولایات به تاریخ 2 حوت توزیع گردید.

## زلزله در ترکیه: مهاجرانی که در تابوت‌ها به سوریه بر می‌گردند

مهاجرنیوز




به دنبال زلزله‌های شدید ۶ فبروری در ترکیه و سوریه، شمار زیادی از مهاجران سوری مقیم ترکیه قربانی این حادثه شدند. تعدادی از خانواده‌ها و بستگان قربانیان، در تلاش انتقال اجساد نزدیکان شان به سوریه هستند. ایستگاه مرزی باب الحوا در پنجاه کیلومتری شهر انتاکیا به یکی از نقاط مهم انتقال اجساد به سوریه مبدل شده و روزانه دهها تابوت از این مسیر به سوریه انتقال داده می‌شوند. مهاجر نیوز گزارش می‌دهد .

بخش عمده انتقال اجساد مهاجران سوری که در زمین لرزه ترکیه جان خود را از دست داده‌اند در شهر ریحانلی در نزدیکی مرز هردو کشور سازماندهی می‌شود. بیشتر قربانیان سوری، مهاجرانی هستند که بعد از آغاز جنگ در سوریه، به ترکیه پناه برده‌بودند .

بر اساس تعامل توافق شده، خانواده‌ها اجساد نزدیکان شان را به ریحانلی انتقال می‌دهند و شهرداری این شهر برای اجساد تصدیق مرگ صادر می‌کند. در آن سوی مرز در سوریه، نزدیکان اجساد را با اسناد تهیه شده تحویل می‌گیرند .

منطقه ادلیب، در آن سوی مرز شمالی ترکیه، از سوی گروههای تحت حمایت ترکیه کنترول می‌شود و دولت سوریه بر آن حاکمیت ندارد. دولت ترکیه برای انتقال اجساد قربانیان، با گروه‌های مخالف رژیم سوریه توافقاتی را انجام داده است .

» بگذارید من هم با او بروم «

روز ۱۴ فبروری، یک زن سیاهپوش که جسد یک کودک پیچیده شده در کفن سپید را در آغوش گرفته در برابر پست مرزی ایستاده است. دو مرد به او کمک می‌کنند تا جسد کودک را در یک کیسه مخصوص و بزرگ به گونه‌ای جا دهند که جسد را بپوشاند و حفاظت کند.




در ایستگاه مرزی باب الحوا: یک خانواده سوری با در حال وداع با قربانیانی که به سوریه انتقال داده می‌شوند. عکس از مهاجر نیوز

زن با ناله فریاد می‌زند: « بگذارید من هم با او بروم!» جسد داخل کیسه، متعلق به دیما، دخترکی ۱۸ ماهه است که نواسه او بود. پدر و مادر این کودک در زمین لرزه منطقه جمهوریتچی در انتاکیا، که منجر به فرور ریختن ساختمان محل اقامت آن‌ها شد، جان دادند. اجساد آنان نیز در عقب کامیونی قرار داده شده که کودک را به سوریه انتقال می‌دهد .

تعدادی از نزدیکان خانواده، مادرکلان دیما را همراهی می‌کنند. آن‌ها هنگام توضیح چگونگی عملیات نجات برای خانواده شان، مانند سایر شاهدان عینی خشمگین هستند: امداد رسانان چندین روز بعد از زمین لرزه به محل آمده‌اند؛ جستجوها با دقت کامل انجام نشده و اجساد یافت شده، از تماس با وسایل نجات صدمه دیده‌اند !

»قرآن را که برداشتم، دیما را دیدم «

به گفته یک تن از مردان خانواده، امدادگران تنها یک هفته بعد از زلزله جستجو در ویرانه‌های ساختمان را آغاز کردند. پدر دیماه را روز ۱۳ فبروری یافتند و مادرش را هم بعد از ظهر فردای آن. امدادگران پس از آن که دیما را نیافتند جستجوها را متوقف کردند. مرد یاد شده با لحن خشمگینی می‌گوید که به گونه تصادفی، در میان ویرانه‌های انبارشده توسط ماشین‌ها، دیما را در زیر یک قرآن بزرگ پیدا کرده است: «وقتی قران را برداشتم زیر آن، سر دیما را در میان خاکروبه‌های انبار شده دیدم «.

روز سه شنبه، اجساد دیماه و پدرو مادرش به دهکده اوبین، محل اصلی اقامت آن‌ها در شمال لاذقیه انتقال یافت .شب همان روز، نزدیکان اجساد را در تاریکی دفن کردند.

مسئولان می‌گویند که از ششم فبروری تا کنون اجساد ۱۵۰۰ تن از طریق نقطه مرزی باب الحوا به سوریه انتقال داده شده است .

مادر کلان دیما عبور کامیون حامل اجساد به آن سوی مرز در سوریه را با حسرت نگاه می‌کند و می‌گوید دلش می‌خواهد او هم با آنها برود اما نزدیکانش او را از نزدیکی خط مرزی بر می‌گردانند و می‌گویند که در چنین صورتی، محافظت موقتی اش در ترکیه را از دست خواهد داد .

مقام‌های ترکیه روز ۱۳ فبروری اعلام کرده بودند که دارندگان حفاظت موقت در ده منطقه زلزله زده در ترکیه مدت شش ماه اجازه دارند به سوریه رفت و آمد کنند بدون آن که محافظت خود را از دست بدهند. این تصمیم فقط چند ساعت قبل از رسیدن خانواده دیما به نزدیکی مرز پایان یافته بود .

مهاجرانی که در ترکیه دفن می‌شوند

واقعیت آن است که شمار کمی از خانواده‌های سوری موفق می‌شوند اجساد نزدیکان شان را به کشورشان انتقال دهند. بیشتر قربانیان در شهرهای محل اقامت شان در ترکیه دفن می‌شوند. تا هنگام نوشتن این گزارش رقم قربانیان در زلزله‌های ترکیه وسوریه به بیش از ۴۴ هزار تن رسیده است.

مصطفی، مهاجر سوری، پنج عضو خانواده‌اش را در گورستان شهر انتاکیا دفن کرده است. عزت، یک مهاجر دیگر، یکی از نزدیکانش را در گورستانی در نزدیکی شهر غازیان تپه به خاک سپرده است .



**گورستان نورداگی در شمال سوریه. دستکم ۱۶۰۰ تن از ترک‌ها و سوری‌ها در شهر اصلاحیه در شمال ترکیه دفن شده‌اند. عکس از مهاجر نویز**

**به گفته یوسف اویس، مسئول امور دینی در شهر اصلاحیه، می‌گوید در این شهر دستکم ۱۶۰۰ تن از ترک‌ها و سوری‌ها دفن شده‌اند .**

**نزدیکی‌های شام، گروهی از مردان جوان اجساد دیگری را نزدیک پست مرزی می‌آورند. فراس، مهاجر ۲۹ ساله سوری، که در بلژیک پناهنده است اما خانواده‌اش در انتاکیا باقی مانده، بعد از وقوع زلزله، با اولین پرواز به ترکیه آمده است. او می‌گوید: «وقتی اینجا رسیدم فهمیدم که همه نزدیکانم مرده‌اند. امروز اجساد شان را اینجا آوردم تا آنها را در سوریه دفن کنند «.**

**او با نگاهی که به زمین دوخته شده ادامه می‌دهد: « تلاش می‌کنم در انتقال اجساد به دیگران هم کمک کنم. بعدتر به بلژیک برخواهم گشت زیرا در ترکیه همه چیزم را از دست داده‌ام «.**

## په ایټالیا کې د افغانانو ټولنه: «موخه مو له یو بل سره مرسته کول دي«

مهاجرنیوز




**په ایټالیا کې د افغانانو ټولنه په ۲۰۱۵ کال کې جوړه شوې ده. د دې ټولنې د جوړېدو موخه ایټالیا مېشتو افغانانو سره په بېلابېلو برخه کې «مرسته کول» او د افغانستان «د کلتور ژوندی ساتل» دي .**

**له تېرو څو کلونو راهیسې په ایټالیا کې د افغانانو ټولنه په بېلابېلو برخو کې فعالیتونه ترسره کوي. دغه ټولنه چې اصلي دفتر یې په روم ښار کې دی د ایټالیا په ۱۷ ولایتونو کې غړي لري. کډوال نیوز د ټولنې مشر کیهان مشرقیوال او مشاورې کبرا رحمتي سره مرکه کړې ده.**

**کډوال نیوز: د افغانانو ټولنه څنګه جوړه شوه؟**

**کیهان مشرقیوال :په ایټالیا کې مشکلات ډېر وو. افغانانو کومه ټولنه نه لرله. په ۲۰۱۵ کې مو هڅه وکړه چې دلته د افغانانو یوه سرتاسري ټولنه جوړه کړو. یو کمپاین مو پیل کړ. له ټولو افغانانو سره راټولېدلو، په پارکونو کې کېناستلو. دفتر مو نه درلود. یو کال مو په کمپاین باندې تېر کړ. بالاخره په دې وتوانېدلو چې اسناد مو د ایټالیا د کورنیو چارو وزارت د کډوالو په څانګه کې ثبت کړو. اوس موږ د ایټالیا په ۱۷ ولایتونو کې د اتحادیې غړي لرو. په درېو ولایتونو کې مېرمنې زموږ استازیتوب کوي.**

**کډوال نیوز: تاسي په کومو برخو کې فعالیتونه ترسره کوئ؟**

**کیهان مشرقیوال :موږ په بېلابېلو برخو کې فعالیتونه لرو. یوه موخه مو د افغانستان د کلتور ژوندی ساتل دي. یاني د افغانستان کلتوري ورځې لکه نوروز لمانځو. بله موخه مو له یو بل سره مرسته کول دي. په ایټالیا کې ډېری افغان کډوال د پېژندپاڼو او پاسپورټونو ترلاسه کولو کې له ستونزو سره مخ دي. مثلا یو افغان دی چې تذکره نه لري، ځي سفارت ته. سفارت ورته وایي چې تاسي دا تایید کړئ چې افغان یاستئ. د افغانانو ټولنه دا تاییدوي چې دغه کس افغان دی. سفارت زموږ سره اړیکه لري. همداسې د نکاح خط، مجرد خط، وکالت خط او نورو اداري اسنادو ترلاسه کولو کې له افغان کډوالو سره مرسته کوو.**

**د افغانانو ټولنه په ایټالیا کې ورزشي ټاټوبي هم لري. موږ د هغو ځوانانو حمایت کوو چې سپورټ کوي .د فوټبال، کرېکټ او والیبال ټیمونه لرو. د ټولنې د ورزشي ټاټوبي مسولان د سیالیو تنظیمولو کې برخه اخلي.**

**موږ د کار موندنې په برخه کې هم له افغانانو سره مرسته کوو. ځینې افغان کارفرمایان چې کارګرو ته اړتیا لري له موږ سره اړیکه نیسي. موږ هڅه کوو چې کارګر ورته پیدا کړو.**

**بیا ولولئ :<u>په ایټالیا کې تور کار: د بې اسناده کارګرو لپاره «شرایط ډېر سخت دي»</u>**

**کډوال نیوز: تاسي د افغانانو ټولنه کې د ښځو چارو مسولیت پر غاړه لرئ. افغانستان کې د مېرمنو د وضعیت په اړه مو فعالیتونه څه دي؟**

**کبرا رحمتي :زه له ټولو هغو ښځو سره چې په افغانستان یا بهر کې دي په اړیکه کې یمه، له هغو ښځو سره چې په هرات یا کابل یا نورو ولایتونو کې اعتراض کوي. موږ د هغوی حمایت کوو. او که چېرې طالب یې ونیسي موږ خپل غږ پورته کوو، له رسنیو سره خبرې کوو، او یا لاریون کوو. په افغانستان کې ښځې خپل حق غواړي خو له تاوتریخوالي سره مخ کیږي.**

**کیهان مشرقیوال :تېره میاشت مو د افغان نجونو د ښوونځي د خلاصون لپاره لاریون وکړ. موږ د مارچ په اتمه هم پر دې موضوع خبرې کوو. د نجونو زدکړه مو سره کرښه ده. واک ته د طالبانو له رسېدو راهیسې مو څلور لاریونه په روم کې کړي دي. اوس په دې کار کوو چې څنګه وکولی شو د ایټالیا پارلمان مخې ته کېنو او د نه خوړو اعتصاب وکړو.**

**کډوال نیوز: تاسي ایټالیا کې د افغان کډوالو وضعیت په هکله څه نظر لرئ؟ د جورجیا ملوني حکومت له کډوالو سره څنګه چلند کوي؟**

**کبرا رحمتي :باید ووایم چې زه څه باندې دوه کاله کیږي چې ایټالیا کې ژوند کوم. زه قانوني کډواله یم او په اسانی مې قبولي ترلاسه کړه. له خدماتو څخه راضي یمه. خو دلته اسناد په ډېر ځنډ ورکول کیږي. له همدې کبله ډېری افغانان په**



Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://www.facebook.com/morr.gov.af2

**ایټالیا کې نه پاتې کېږي. دوی د خپل راتلونکي په اړه ډاډمن نه دي نو ځکه د اروپا نورو هېوادونو لکه فرانسې یا المان ته ځي.**

**بیا ولولئ :<u>ایټالیا: کډوال د جورجیا ملوني د کډوالۍ سیاست په اړه څه وايي؟</u>**

**کیهان مشرقیوال :ایټالیا کې هر څه ډېر سخت دي. دلته اسناد په ډېر ځنډ ورکول کېږي. د اسنادو د نوي کولو لپاره ادرس ته اړتیا شته. په روم کې ادرس په زرو یورو اخیستل کېږي .هغه حقوق چې باید مهاجر ته ورکړل شي، هغه په ایټالیا کې نشته. دلته مهاجر باید پخپله کار او سرپناه پیدا کړي.**

**د جورجیا ملوني ټیم د کډوالو ضد دریځ لري. خو دوی مجبور دي چې د اروپا قوانین په نظر کې ونیسي. فکر نه کوم چې پلان یې کامیاب شي .**

## د آلمان د مالیې وزیر د زیاتو رد سویو کډوالو د ایستلو غوښتنه وکړه

دویچه وله




**د آلمان د مالیې وزیر وايي چې المان ته باید د غیري قانوني کډوالو د ورتګ مخنیوی وسي. د هغه په خبره، د نورو ډېرو رد سویو کډوالو ایستلو ته اړتیا ده .**

**د آلمان د مالیې وزیر کریستیان لیندنر په نظر، په یوه کټوره لار باید آلمان ته د غیري قانوني کډوالو مخه ونیوله سي .**

د آزاد ديموکراټانو ګوند دغه سياستمدار ويلي دي چې پر دې سربېره بايد له آلمان څخه د ايستلو لړۍ چټکه سي: «موږ په بشپړه ډول د غيري قانوني کډوالو مخنيوی نه کوو».

د هغه په خبره: «هغه څه چې موږ ورته اړتيانه لرو، غيري قانوني کډوالي ده، دا کډوالي که څه هم غيري قانوني ده، خو د زيات وخت له پاره د هستوګني او اجتماعي ګټو ترلاسه کيدو سبب کيږي».

هغه وړانديز کوي چې کارګرو کډوالو ته دي د نورو لارو چارو ترڅنګ د هغوی د اسنادو د تاييد بهير هم چټک کړل سي.

له بله پلوه هغه له هغو کډوالو سره چې په آلمان کي د پاته کېدو حق نه لري د قاطع چلند غوښتنه وکړه، لينډنر هيله لري چې د کډوالو له پاره نوي تاکل سوی استازی يواخيم ستيمپ به د غيري قانوني کډوالو بيرته خپلو هيوادونو ته د ورستنولو په موخه له هغو هيوادونو سره يوشمېر تړونونه لاسليک کړي.

د آلمان د ماليې وزير ويلي دي: «د يو ډول راکړي ورکړي داسي تصور سته چې محصلانو ته د ويزې ورکولو اسانتياوي، اقتصادي همکارۍ او د غيري قانوني کډوالۍ مخنيوی پکښې شامل دی».

د آلمان د کډوالي او پنا غوښتني فدرالي ادارې د شمېرو له مخي پروسږکال ۲۱۷زره او ۷۷۴کسانو په آلمان کي د پنا اخيستلو غوښتنليکونه ورکړي دي .

دغه شمېره د تېرکال په پرتله ۴۷فيصده زياته ده. په دې ډله کي ډيری پناه غوښتونکي د سوريې (۷۰زره او ۹۷۶ تنه)، افغانستان (۳۶زره او ۳۵۸ تنه )، ترکيه (۲۳زره او ۹۳۸ تنه) او په همدې ترتيب عراق او ګرجستان شامل دي .

پر دې سربېره يو ميليون کډوال له اوکراين څخه بېله دې چې د پنا غوښتني اسناد وړاندي کړي، آلمان ته راغلي دي، نو همدا سبب دی چې د آلمان په يوشمېر سيمو کي خلک د کورونو له کمښت څخه شکايتونه کوي.

## په اروپا کي د تيرو ۷ کالو راهيسي تر ټولو زياتي د پناه غوښتني شوي

مهاجرنيوز




**د اروپايي اتحاديې په غړو هيوادونو کې په ۲۰۲۲ کال د تيرو اوو کالو راهيسي تر ټولو زياتې د پناه غوښتنې شوي دي.**

**اروپايي اتحاديې ته د مهاجرو د راتګ لوی بهير ادامه لري. په مالټا کې مستقر د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې آژانس (EUAA)په دې تړاو نوي معلومات خپاره کړي دي. د دغه آژانس په وينا په ۲۰۲۲ کال د اروپايي اتحاديې په غړو هيوادونو کې په دومره لوی شمېر د پناه غوښتنې وشوې، چې په مخکې ۷ کالو کې يې سارى نه و ليدل شوى. د ياد آژانس له خوا د چهارشنبې په ورځ په خپرو شوو معلوماتو کې راغلي دي چې په ۲۰۲۲ کال د سويس او ناروې په شمول د اروپايي اتحاديې په ۲۷ غړو هيوادونو کې په ټوليزه توګه ۹۶۶۰۰۰ د پناه غوښتنې شوي دي. د پناه ياد شمېر غوښتنې د ۲۰۲۱ کال په پرتله پنځوس سلنه زياتې وې. په دې توګه دغه شمېر له ۲۰۱۶ کال راهيسي چې پکښې ۱،۲ مليون انسانانو د پناه غوښتنه کړې وه، تر ټولو هسک شمېر دی.**

**د ياد آژانس د معلوماتو پر اساس د پناه غوښتنو د شمېر په زياتېدلو کې د کرونا پاندمي وروسته د محدوديتونو کمښت هم په جزوي توګه رول لوبولی دی. زياته شوې چې يو بل لامل په نړۍ کې د جنګونو زياتېدنه هم دی. د دغه آژانس په حواله د بحرانونو په ترڅ کې زيات انسانان و خوراکي توکو ته اړين لاسرسی نه لري چې له کبله يې هم هغوی د خپلو هيوادونو پرېښودلو ته اړ کيږي.**

**د پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اژانس له خوا ويل شوي دي چي په ۲۰۲۲ کال تر ټولو زياتې د پناه غوښتنې د سوريې او افغانستان وګړو کړي دي .په ياد شمېر کې تقريبا ۴ مليونه هغه اوکراينيان نه دي شامل چې اروپايي هيوادونو ته تللي**

دي. د اروپايي اتحاديي غړو هيوادونو د اوکراين مهاجرو ته ځانګړی مقام ورکړی چې له کبله يې هغوی اړ نه دي چې د پناه غوښتنه وکړي.

د اروپايي اتحاديي دغه آژانس په وينا د پناه غوښتنو د زيات شمېر له کبله د دغي اتحاديي د غړو هيوادونو د مهاجرو د مراقبت امکانات په لوړه اندازه تر فشار لاندې راغلي دي. آلمان په ۲۰۲۲ کال ۲۴۴۱۳۲ د پناه غوښتني ثبت کړي. دا شمېرې د آلمان د کورنيو چارو وزارت د بامف اداري په حواله خپرې کړي دي. په دې توګه سره په آلمان کې په ۲۰۲۲ کال د مخکني کال په پرتله په پناه غوښتونو کې د ۲۸ فيصدو زياتوالی ثبت شوی دی.

په آلمان کې له پناه غوښتونکو څخه تر ټولو زيات له افغانستان او سوريي څخه ول. د دې تر څنګ په ياد کال په دغه هيواد کې يو مليون اوکرايني مهاجر هم ثبت شول.

## مهاجرت غيرقانونی؛ 5909 مهاجر در سال 2022 جان باختند

راديوصدای ترکيه

**سازمان ملل اعلام کرد، در سال 2022، 5909 مهاجر غيرقانونی که در تلاش مهاجرت به کشور ديگری بودند، جان خود را از دست دادند**



**در سال 2022، 5909 مهاجر غيرقانونی هنگام تلاش برای مهاجرت به کشور ديگری در جهان جان خود را از دست دادند.**

**بر اساس داده‌های سازمان بين‌المللی مهاجرت ملل متحد، سال گذشته 2406 مهاجر در دريای مديترانه، 1338 نفر در**

قاره آمریکا، **1000** نفر در آسیا، **915** نفر در آفریقا، **157** نفر در اروپا و **93** مهاجر غیرقانونی در منطقه خاورمیانه- غرب آسیا جان خود را از دست دادند .

حدود **20** درصد از مرگ و میرها در جاده‌های منتهی به اسپانیا رخ داده است.

خبرنامه